## قرآن کریم د ټولي نړۍ لپاره د رحمت کتاب دی

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کي فرمايلي :«**وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ**» ژباړه: «موږ ددغه قُرآن د نازلولو په لړ کښي هغه څه نازلوو چي د منونکو لپاره شفا او رحمت دی، خو د ظالمانو لپاره له زيان څخه پرته بل څه نه زياتوي»، په بل ځای کې فرمايي: «**وَهَذَا كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ فَاتَّبِعُوهُ وَاتَّقُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ**» ژباړه: «او په همدې ډول موږ دا کتاب نازل کړيدی، له برکته يو ډك کتاب دی نو تاسي د دې پيروي وکړئ او د پرهېزګارۍ کړنچاره غوره کړئ ليرى نه ده چي پر تاسي رحم وشي» او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

يقينا قرآن کريم د الله جل جلاله مضبوطه رسۍ ده چې د حکمت او پند څخه ډک کتاب دی چا چې ولوستو ريښتينی شو او چا چې ددي سره سم حکم وکړ نو عدالت يي پرځای کړ، او هر هغه چا چې د قرآن کريم لاره ونيوله نو په سمه لاره روان شو، علماء يي په لوستلو نه مړيږي او د عجائبو څخه ډک کتاب دی، باطل نه مخامخ پري راتلای شي او نه د شا لخوا، لکه چې الله تعالى فرمايي: «**إِنَّهُ لَقُرْآنٌ كَرِيمٌ * فِي كِتَابٍ مَكْنُونٍ * لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ * تَنْزِيلٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ**»، ژباړه: «چي بېشکه دا يو لوړ مقامی قُرآن دی، په يو محفوظ کتاب کښي ثبت، چي له پاکانو پرته يې څوك نشي مسح کولای (نه دې مسح کوي مګر پاکان، دا د عالميانو پروردګار نازل کړيدی»، په بل ځای کې فرمايي: «**وَإِنَّهُ لَكِتَابٌ عَزِيزٌ * لَّا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيد**»، ژباړه: « خو حقيقت دا دی چي دا (قُرآن) يو پياوړی کتاب دی، باطل نه مخامخ پرې راتلای شي نه د شا لخوا دا د حکمت د څښتن، د يو ستايل شوي ذات، نازل کړی شوی کتاب دی».

قرآن کريم داسي کتاب دی چي د ټولي نړۍ لپاره رحمت دی، لکه چې الله تعالى فرمايي: «**يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُمْ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ * قُلْ بِفَضْلِ اللهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَلِكَ فَلْيَفْرَحُوا هُوَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ**»، ژباړه: « اې خلکو**!** تاسي ته ستاسي د رب له لوري نصحيت راغلی دی. دا هغه شی دی چي د زړونو د ناروغيو شفا (درملنه) ده او د مؤمنانو له پاره هدايت او رحمت دی، اې پيغمبره (ص)!] (ورته) ووايه: "دا د الله فضل او د هغه مهرباني ده چي دا (قُرآن) يې واستوه، پر دې خو بايد خلك خوشالي وکړي. دا له ټولو هغه شيانو څخه ډېر غوره دی چي خلك يې راغونډوي»، په بل ځای کې

فرمايي: «**وَنزلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ**»، ژباړه: «موږ دغه کتاب پر تا نازل کړی دی، چې په ډاګه ښکاره د هر شي څرګندوونکی دی او د هغو خلکو لپاره هدايت، رحمت او زيری دی چې د امر منني غاړه يې ايښې ده»، او په بل ځای کې فرمايي: «**تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْحَكِيمِ * هُدًى وَرَحْمَةً لِلْمُحْسِنِينَ**»، ژباړه: «دا د حکمت لرونکي کتاب ايتونه دي، هدايت او رحمت د نېکو کارو لپاره دی»، همدارنګه په بل ځای کې فرمايي: «**وَلَقَدْ جِئْنَاهُمْ بِكِتَابٍ فَصَّلْنَاهُ عَلَى عِلْمٍ هُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ**» ژباړه: «موږ دغو خلکو ته له يو داسې کتاب سره راغلي يوو چې هغه مو د علم په اساس تشرېح کړی دی، د ايمان راوړونکو لپاره هدايت او رحمت دی».

د رحمت کلمه په قرآن کې د دوه سوو څخه زيات کرتي راغلي ده او قرآن ددي بيان کړی چې رحمت د الله جل جلاله د صفاتو څخه يو صفت دی، لکه چې الله تعالی فرمايي: «**وَرَحمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ**» ژباړه: «خو زما رحمت پر هر څه خور شويدی»، په بل ځای کې فرمايي: «**وَرَبُّكَ الغَنِيُّ ذُو الرَّحْمَةِ**» ژباړه: «ستا رب بې نيازه او د رحمت خاوند دی»، او په بل ځای کې فرمايي: «**وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ**» ژباړه: «او ستا د رب رحمت له هغي شتمنۍ څخه زيات قيمتي دی چې (دوی يې) راغونډوي»، او همدارنګه په بل ځای کې فرمايي: «**كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ**» ژباړه: «ستاسي رب د رحم او مهربانۍ کړنچاره پر خپل ځان لازمه کړېده».

څوک چې په قرآن کريم کې فکر وکړي وبه مومي چې پکې د ټولي نړۍ لپاره رحمت شتون لري، پداسي ډول سره چې الله جل جلاله شپه او ورځ پيدا کړې ده چې د ټولو مخلوقاتو لپاره رحمت دی پداسي ډول چې د شپې آرام کوي او د ورځې د روزي د پيدا کولو او د نړۍ د آبادۍ لپاره هڅې کوی، همدارنګه الله جل جلاله باران د ټولي نړۍ لپاره رحمت ګرځولی لکه چې الله تعالی فرمايي: «**وَمِنْ رَحْمَتِهِ جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ**» ژباړه: «دا د هماغه رحمت دی چې ستاسي لپاره يې شپه او ورځ منځ ته راوړيدي، تر څو چې تاسي (په شپه کښي) استراحت وکړئ او (په ورځ کښي) د خپل رب فضل ولټوئ، ښايي چې تاسي شکر ايستونکي شئ»، په بل ځای کې فرمايي: «**وَهُوَ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ حَتَّى إِذَا أَقَلَّتْ سَحَابًا ثِقَالًا سُقْنَاهُ لِبَلَدٍ مَيِّتٍ فَأَنْزَلْنَا بِهِ الْمَاءَ فَأَخْرَجْنَا بِهِ مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ كَذَلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتَى لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ**» ژباړه: «او همغه د الله ذات دی چې بادونه د خپل رحمت مخکي مخکي زيري ورکوونکي لېږي. بيا چې کله هغوی له اوبو څخه درنې شوي وريځې را الوزوي، نو هغه د کومي مړې ځمکي پر لوري خوځوي او هلته د باران په ورولو (له هماغې مړې ځمکي څخه) رنګارنګ مېوې راباسي. وګورئ، په دې ډول موږ مړي د مرګ له حالت څخه راباسو. په کار ده چې تاسي له دې کتني څخه درس واخلئ».

قرآن کریم ددي بیان هم کړی دی چې الله جل جلاله پیغمبران رالیږلي او کتابونه یي نازل کړي چې دا هم د ټولي نړۍ لپاره رحمت دی، لکه چې الله تعالی فرمايي: «**أَوْ تَقُولُوا لَوْ أَنَّا أُنْزِلَ عَلَيْنَا الْكِتَابُ لَكُنَّا أَهْدَى مِنْهُمْ فَقَدْ جَاءَكُمْ بَيِّنَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ**» ژباړه: «او اوس تاسي دا پلمه هم نه شئ کولی چي که پر موږ کتاب نازل کړای شوی وای، نو موږ به له هغو څخه ښه هدایت موندونکي وای. تاسي ته ستاسي د رب له لوري یو روښانه دلیل، هدایت او رحمت راغلی دی»، الله تعالی د خاتم الانبیاء او رسولان محمد صلی الله علیه وسلم په هکله فرمایي: «**وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ**» ژباړه: «موږ د ټولو مخلوقاتو لپاره ته رحمت لیږلی یي»، په بل ځای کې فرمایي: «**لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ**» ژباړه: «وګورئ! تاسي ته یو پېغمبر راغلی دی چي په خپله له همدا تاسي څخه دی. ستاسي په زیان کښي لوېدل پر هغه ګران تمامیږي. هغه ستاسي د رغېدني حِرصناك دی، د مؤمنانو لپاره هغه خواخوږی او زړه سواند دی».

الله جل جلاله په قرآن کریم کې د خلکو څخه غوښتنه کړې ده چې د الله جل جلاله رحمت ته هیله او امید ولري او دا یي بیان کړې چې د هغه رحمت د نیکۍ او استقامت خاوندانوته ډیر نږدی دی لکه چې فرمایي: «**قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللهِ إِنَّ اللهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ**» ژباړه: «اې پېغمبره (ص) زما هغو (مؤمنو) بندګانو ته، چي پر خپلو ځانونو یې تېری کړی دی، ووایه: د الله د رحمت څخه مه ناهیلي کیږئ؛ په یقیني ډول الله ټولي ګناوي بخښي؛ هغه ښه بښونکی او مهربان دی»، په بل ځای کې فرمایي: «**إِنَّ رَحْمَتَ اللهِ قَرِيبٌ مِنَ الْمُحْسِنِينَ**» ژباړه: «په یقیني توګه د الله رحمت نېکانو ته نژدې دی».

****

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

بي له شکه واقعي مومن هغه دی چې په قرآن کریم کې په راغلي اخلاقو خپل ځان سمبال کړې هغه قرآن چې الله تعالی د ټولي نړۍ لپاره رحمت لیږلی دی، او واقعي مومن ځان د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په آدابو باندې ځان سمبالوي هغه نبي چې الله تعالی د ټولي نړۍ لپاره رحمت لیږلي دی، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: رحم کوونکو باندې الله تعالی رحم کوي تاسو په هغه چا باندې رحم وکړئ چې په ځمکه کې دې ترڅو په تاسو

باندې هغه څوک رحم وکړي چې په اسمان کې دې، همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي: الله تعالی خپل رحمت سل برخي ګرځولي نهه نوي برخي يي ځان سره ساتلی د قيامت لپاره او ځمکي ته يي يواځي يوه برخه نازل کړې ده ددغه برخي له کبله مخلوقات يو په بل باندې رحم کوي ، او کله چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم اوخه وليده چې د سترګو څخه يي اوښکي رواني وي نو پيغمبر عليه السلام وفرمايل: دا اوخ د چا دی؟ نو د انصارو څخه يو ځوان راغی او وی ويل زما دی ای د الله رسوله! نو پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل: ته د الله څخه ددي اوخ په حق کې نه ويريږي چې تاته يي ملکيت درکړی ځکه دي اوخ ماته شکايت وکړ چې خواړه نه ورکوي او زيان ورته رسوي.

بشريت ټول ديته اړتيا لري چې د قرآن کريم اخلاق په ځان کې راولي دا هغه کتاب دی چې د سولي سلامتيا او رحمت څخه ډک دی.

خپلي خبري په دوو خبرو پای ته رسوو لومړی د قرآن خاوندانو ته او دوهم د نړۍ پوهانو ته، د قرآن خاوندانوته وايو چې تاسو پخپلو ښايسته غږونو باندې قرآن ته نورهم زينت ورکړئ او ټولي نړۍ ته خوږو آوازونو باندي واوروئ، ای د قرآن خاوندانو پخپلو نيکو اخلاقو باندې قرآن کريم ښايسته کړئ او ناپوهانو ته ستاسو ښه ځواب همدا دی چې قرآن کريم ته نوره هم پاملرنه زياته کړئ پداسي ډول چې تلاوت ذکر او تدريس يي وکړئ ځان پري پوه کړئ او په عمل کې يي تطبيق کړئ، ای الله څوک چې ستا د کتاب بد غواړي د هغوی دسيسي او ناوړه پلانونه پخپل کور کې شنډي کړې او ستا د قدرت عجائب مونږ ته پکي وښايي ترڅو د خلکو لپاره يو عبرت وګرځي.

او دنړۍ ټولو عقلاؤ او پوهانو ته وايو چې نړۍ نور د بل ديني جګړي توان نلري چې د اوسنيو جګړو ترڅنګ رامنځته شي نو هڅه وکړئ ترڅو د ديني کرکي ټول ډولونه له منځه يوسئ مخکي لدي چې اوبه له ورخه تيري شي ځکه تندروي له ځان سره مقابل لوري ته نوره تندروي را زيږوي او د ځينو بی عقلانو له وجي د صبر کاسه نوره ډکه شوي ده ځکه چې دغه بي عقلانوته اجازه ورکول کيږي ترڅو ديني کرکي احساس رامنځته کړې او د ګډ ژوند جوړښت له منځه يوسي.

بي له شکه مسلمانان چې پخپل دين باندې غيرت لري په هغه څه باندې زيانمن کيږي چې ددوی په نبي او يا هم په قرآن باندې څوک تيری وکړې هر څومره چې عاقلان د حکمت او صبر لپاره اوږده ساه واخلي خو بيا هم داسي وخت راځي چې دغه حکمت له منځه ځي او خبره د عاقلانو او حکماؤ د لاس څخه بهر کيږي چې بيا فتني ته لاره هواريږي لکه د شپي د تيارو د برخي په څير چې په انجام يي بيا د الله جل جلاله پرته بل څوک نه پوهيږي.

**ای الله مونږ ته د قرآن کريم په وسيله ګټه را ورسوه**